ډاکټر لمر ۲۰۱۰/۲/۱۰

# د پښتو کره لیکدود او د سیمییزې ادبي پانګې توپیر

درنو لوستونکوپه وروستیو دریو لسیزو کې د افغانستان ټولنیز بهیر داسې بې سر او پښو دئ، چې ډېر انسانان ورته د حیرانتیا غاښونه چیچي او ګڼ شمېر بې وزله خلک ورته له ورایه ګوري او د خپلو غمونو پوښتې پرې امباروي٠ د افغانستان کړکېچونه دومره هر اړخیز او پراخ بنسټه دي، چې د هرې پیښې او یا هم هر ډول ټولنیز بهیر او یا واکمنې پهٔ اړه چې څهٔ وایې او یا اورې، نو لومړی بهٔ دې د سر ویښته لک ودرېږي او بیا بهٔ د ناهیلۍ لهٔ هینداري سره مخامخ شي.

د افغانستان پهٔ ستونرو کې د پښتو ژبې ټولنیز موقف هم نا څرګند دی، څرنګه چې افغانستان په خپل سیاسي ډګر کې د بېلابېلو سیاسي کړیو په اخ او ډب کې دړې وړې شو، خو له پښتو سره هم سیاسي تربګني وشوه، چې د دغه ناخوالو غوره لوبغاړي پښتانهٔ پخپله دي او د نورو د کلتوري، سیاسي او حتی دیني او مذهبي یرغلونو لاره یې ورته هواره کړې ده٠ افغاني ټنګ ټکور مو پهٔ سیمه کې پهٔ هندي او ایراني واوښت او پهٔ لویدېځې نړۍ کې مو افغانان راکن-رال ته نښېږي او یا هم تنده پهٔ رېپ او یا پوپ ماتوي. درنو هېوادوالو زما د دغه لیکنې موضوع د پښتو ژبې د ستونزو او د دغه ستونزو د مناسبې حل لارې د دریځ پهٔ اړه ده، نو د افغانانو نور پرابلمونه بهٔ بل وخت ته پرېږدم.

پښتو د افغانستان ملي ژبه وه او بیرته د رسمي ژبې ډګر ته وروا و ښته٠ پښتو د شلمې پېړۍ په پیل کې خپل رسمیت په اداري چارو کې تر لاسه کړ او د ۱۹۳۶ ز ک کې لومړنۍ رسمي او د ۱۹٦٤ ز ک د اساسي قانون پر بنسټ د افغانستان یوازینۍ ملي ژبه ومنل شوه، خو وروسته له سرې غمیزې او بیا د اسلامي اوښتونو په بهیر کې د افغانستان له نورو ناخوالو سره پښتو هم بدمرغه شوه او د ننیو واکمنو له خوا د میلیتابه له پړاوه راوغورځول شوه، چې اوسمهال یې ډېرو ډلو د له منځه وړلو دریځ خپل کړی دی.

باید یاده شي چې د پښتو وده، پراختیا دوډېدل او پهٔ پښتو لیکل پهٔ لومړي ګام کې د پښتنو، پښتني پوهانو او روڼ اندو لیکوالانو مسؤلیت دئ٠ نن سبا پهٔ نړۍ کې لږ تر لږه سل میلیونه پښتانه اوسېږي، چې له هغوی څخه ډېر یې په افغانستان، پښتونستان او هندوستان کې مېشت دي٠ ګڼ شمېر پښتانهٔ پهٔ کشمیر، بنګله دېش، ایران او د نړۍ پهٔ نورو سیمو کې هم ژوند کوي او پهٔ وروستیو دریو لسیزو کې، پهٔ هېواد کې د بل شوي اور له کبله، د نړۍ پهٔ ګوټ ګوټ کې خوارهٔ وارهٔ شول او اوسمهال د نړۍ پهٔ بېلابېلو سیمو کې پردېس دي٠

درنو هېوادوالو! ما څه موده مخکې د (پښتو او افغاني هویت د ځانګړو لیکوالو د ذهني ښکېلاک په لومه کې ) تر سرلیک لاندې څو کرښې توری کړې وې، خو زما لیکنه په یو شمېر برېښناپاڼو کې خپره شوه او ځینو بیا هم له خپرېدو وغورځوله او ما ته یې ځیني سپاربنتونه وکړل، چې لاندې د لراوبر پاڼې د چلونکي غبرګون لیکم.

ښاغلی ډاکټر لمر! ستاسو لیکنه مخکې هم لر او بر ته رسېدلې وه، له خپرېدو ځکه پاته ده چې پر ژبی بحثونه زموږ بیچاره او مظلوم ولس داسې ټوټې ټوټې کړي لکه ډیورند کرښې چې سلو شل کاله مخکې ټوټې کړی و. لر اوبر په دې برخه کې یوازې د با صلاحیته استادانو علمي دلایل د هغوی په اصلي نومونو د مسؤلیت له مخې خپروي. نه د دي موضوع د مینه والو نظریات هغه هم په مستعار نومونو. هیله ده اوس د خپلې لیکنې د نه خپراوي لامل درته روښانه سوی وي. لر اوبر تاسو ته بلنه درکوي چي د خپل ولس او ژبې سره مینه له بهرنیو ژبو څخه د خپل مسلک په ډګر کې به علمي ژباړو سره توده وساتی. په درناوي.

نن بیا ما د ښاغلي معصوم هوتک لیکنه « [پر(ژ ـ ږ) او (ش ـ ښ) باندې دپښتواوځینواروپایي ژبوله نوني څخه یوه څېړنه](#) »، چې د پښتو توریو د لیکلو او ویلو او د دغوتوریو د برابر موندل په نورو ژبو کې او پرتله کول له نورو ژبو سره ول، ولوستله، خو همدا ډول ښاغلي اسماعیل یون هم یوه لیکنه «د چرګانو ژبه» تر نامه لاندې لیکلې ده، چې په تاند برېښناپاڼه کې خپره شوې او د چرګانو له ژبې سره یې د پښتو په اړه د پښتنو دریځ او د پښتو ټولنیز موقف په ښه توګه سپړلي دي، چې تاسو یې هم لوستلو ته رابولم.

درنو لسوتونکو! تاسو به اورېدلي وي، چې څو کاله مخکې د پاکستان ولسمشر پروېز مشرف د افغانستان ولسمشر ښاغلي حامد کرزي ته د اوښ مارغه " شترمرغ" خطاب کړی وو، چې په ګڼ شمېر برېښنا پاڼو کې خبرې هم پرې وشوې، خو ما په یوه لیکنه کې هم ونه لوستل، چې ولې ښاغلي کرزي ته د اوښ مارغه لقب ورکړل شو، نو په دې لیکنه کې غواړم تاسو ته ولیکم، چې ولې په لوېدیزه نړۍ کې یو بې کفایته لارښود یا رهبر ته د اوښمارغه خطاب کوي، چې په دې اړه داسې ویل کېږي.



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املایی و انشایی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

کله چي اوښ مارغه له ستونزو سره مخامخ شي، ياني چي د وحشي حيوان د خوړلو له ګواښ سره مخامخ شي، نو سر په دښته کې په شګو کې ومندي، نو داسې ګومان کوي، چي څه ما خو سر پټ کړ او په سترګو څوک نه وينم، نو نور هم ګواکي ما نه ويني، نو ښاغلی حامد کرزی هم د خپلي واکمني پرابلمونه نه ويني. درنو هېوادوالو! موږ په خپل ټاټوبي کي اوښمارغه نه لرو، خو زرکي هم د اوښمارغه کاني کوي، هغه دا چي په ژمي کي خلک د زرکو په ښکار ځي او زرکه د هغې په پل موندي. زرکه هم د ځار په بهير کي اخر سر په واوره ومندي او خپله لکی بوکه ونيسي، چي ګواکي څوک مي نه ويني او د ښکاري ښکار شي.
درنو ورونو او خويندو! ما دغه کيسه ځکه وکړه، چي ستاسو پام د پرابلمونو د حل لپاره راواړوم، نه دا چي ننني پرابلمونه بل نسل ته پرېږدو او وواېو، چي څه هر څه به پخپله حل شي. په جګړه کي هغه قوماندان اتل ګڼل کېږي، چي جنګي ستونزې حل کړي، نه داچي خلکو ته غاښونه وښيي او پرابلم پر ځای پاتي شي. که يو قوماندان ستر برى په کم ځواک او لږو قربانيو تر لاسه کړي، نو د ډګر نابغه ګڼل کېږي، لکه نن سبا په افغانستان کي ګلبدين حکمتيار او ملا محمد عمر، چي د امريکايي او لويديزو ځواکونو په مقابل کي په مبارزه بوخت دي، چي امريکا او لوېديزه نړۍ په خپلو رسنيو کي ملا محمد عمر ته د ۲۱ پېړی د نظامي برخي ستر نابغه ګڼي، ځکه چي دوی يې په يو وروسته پاتي، مګر مېړني ملک کي په ګونډو کړي دي.
را به شم پښتو ته! ما مخکي هم ليکلي ول، چي زه يو اماتور ليکوال يم، خو ژوند داسي راپېښه کړه، چي د کرښو په تورلو مي سر شو او د پښتو او پښتني کړو وړو سره مي کار شو، نو د دغو هلو ځلو په ترڅ کي له افغاني ليکوالو د هغوی له صليقو، سياسي مفکورو او ژبنيو ځانګوښتنو سره له نېږدې معرفي شوم او نن سبا د هغوی د ژبنيز شوونيزم د شنو لښتو ګوزارونه پر ما هم راغلل. سر ښېره پر دې، چي زما ليکني يوازي اصلاحي بڼه لري او موخه يې د پښتو کره ليکدود دئ او د سيمه ييز ګړدود له ادبي پانګي سره ستونزه نه لرم، هر څوک پوهيږي سيمه يې او ګړدود يې، خو زه د افغانستان د هر ګوټ افغان خپل ورور او خور ګڼم، هماغه خبر ده: که ازغی په پښه کي لاړ شي، نو نه دا چي يوازې پښه ترې په عذاب وي، مګر ټول ځان ترې ځورېږي، نو پښتو هم د افغان ملت لپاره ملي ارزښت دئ او يوازې د پښتنو ژبه نه ده، مګر د ټول ملت د هويت او وروروَلي ربنکی ده او د افغان ملت ژبه ده، نو پښتنو ته په وړو سيمو کي پولي نه شي ټاکل کېدلی.
کله چي ماشوم وم، لکه نورور افغانانو غوندي ما هم ديني سبق له خپل پلار، مور او انا څخه تر لاسه کړی، خو کله چي ما د قران شريف په زده کړه پيل وکړ، نو پلار مو د مور او انا په سپارښت مور ته د قران کريم استاد ونيو، چي يو کال مو له يو غير پښتني ملا څخه لوست کاوه، چي د قران کريم په لوستلو کي په زغرده روان وم.
يو کال وروسته بيا زموږ يو خپلوان له کلي راغئ، چي هغه هم هلته په کلي کي ملا وو، نو دا بل کال هغه موږ ته قران را زده کاوه، مګر په زړه پوري دا وه، چي زموږ پلار به د مياشتي په پای کي له موږ څخه د قران شريف د زده کړې آزموينه اخيستله. مخکي له آزموينې ما خپل پلاره ته وويل، چي زموږ نوی ملا ، قران کريم بل ډول وايي، پلار مي وويل چي څه ډول يې وايی، نو ما ورته وويل چي قران لکه پښتو وايي. پلار مي راته په قهر شو، چي ملنډې مه وهه، خو څو ورځي وروسته د آزموينې ورځ راورسېدله او زما وار لکه د کور مشر زوی لومړی ؤ، نو ما هم قران په پښتني ګړدود ورته پيل کړ، چي الف ته مي الپب، قاف ته کاپ، بصير ته مي بسخوير، عارف ته آرېپ او داسي نور وکارول، خو پايله دا شوه، چي زما پر مخ څو څپېړې حواله شوې، خو ګټه دا شوه، چي بل ملا يې موږ ته ونيو، چي سم قران زده کړو.
آيا پښتو تر ننه له خپلو سيمو وتلي او که نه؟ راځئ له احساساتو تېر شو او خپلو غوښتنو ته غير منطقي لاسوندونه ورنکړو او پښتو په نورو ژبو کي ګډه نکړو او د پښتو پرابلمونو ته په نېغه وګورو. لومړی دا چي د پښتو تاريخ لکه يوه پوهنيزه ژبه نه شته. يو ملک لکه افغانستان، چي پوهنتون يې د ۶۰ کالو تاريخ و نه لري او پرته له پښتني کيسو، چي له يو نسل بل نسل ته لکه مرموزې کيسي ورانتقاليږي، نو د ليکبني په شکل د ګوتو په شمار ليکني او کتابونه لرو. څو کاله مخکي يو افغان، چي ځان يې د ښاغلي سليمان لايق زوم ګڼانه او زما سره يې د پښتو او فارسي په تاريخ او لروغونوالي بحث شو، نو يوه خبره يې ډېره په زړه پوري وکړه، چي ويل يې (شما پشتون ها مېګښن کې زبان پشتو تاريخ چندين هزار ساله دارد، باز وقتيکه از ايشان اسناد تحريري بخواهي باز ميګويند کې «ټول اسناد د هندوستان په ځنګلو کي ورک شوي دي»، نو ما به ور غبرګه کړه، چي نه د سقويانو په واکمني کي سوځېدلي دي!). په هر ډول چي ول، څه چي تېر هغه په هېر، نو راځئ، چي اوس پښتو ته يو سم مسير وټاکو.
تاسو ټولو ته ځرګنده ده، چي پښتو خپل ليکدود لپاره له پرديو توريو کار اخلي، نن سبا په پښتنو کي عربي ليکدود له يو څه توپير سره کارول کېږي او هغه توري چي په نورو ژبو کي نه کارول کېږي او يا لږ کارول کېږي، لکه:( څ، ځ، ړ، ګ، ځ، پ، ښ، ژ او داسي نور)، نو کېدلی شي پښتو ته منسوب شي، ځکه چي پرته له پښتو په نورو سيميزو ژبو کي نه کارول کېږي او د پښتو ژبې معادل پسي په نورو ژبو کي ګرځېدل هسي د وخت ضايع کول دي.


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

بریښنايي پښتو هم له ستونزو سره مخامخ ده، ګڼ شمېر برېښناپاڼو خپلې برېښناپاڼګې له خپلو کیبوردونو سره جوړې کړې او یو شمېر افغانان د یو معیاري پښتو کیبورډ له نه لرلو سره له نویو ستونزو سره مخامخ دي او یو شمېر افغانان په بهر کې خپلې لنډې لیکنې او یا بحثونه په انګرېزي توریو لیکي، چې دا یوه بله نوې ستونزه ده. خلک د پښتنې لغتونو لپاره په هر ملک کې چې ژوند کوي د هغه ملک د لیکودې او لیکدود سره سم د پښتو غږونه لیکي، چې په راتلونکي کې د یوې نوې ستونزې ګواښ ورکوي، ځکه چې ننني پښتو هم مخکنیو لیکوالو د پردیو توریو او پښویې په رڼا کې څېړلې او له وسې سره یې سم ورته توري ټاکلي، چې ننني پښتو لیکدود ترې جوړ شوی. باید په یاد ولر، چې په مهاجرت کې افغانان له نویو پردیو ژبو سره مخامخ شوي دي او پښتو توریو د غږ لپاره د سیمه ییزو توریو مرکب لیکي، د بېلګې په توګه د (ش) غږ په انګرېزي کې په (sh)، په لاتین کې (ch)، په نیدرلندي کې (sj) لیکل کیږي، نو وروسته له ۱۰۰ کالو به بیا یو څوک لیکي، چې پلاني ملا یا بیستانکی بلا داسې لیکلي ول.

ما په روسیه کې د ماسکو اولیننګراد تر منځ ۱۵ کاله ژوند کړی او ۳ دیپلومونه لرم، چې یو یې د روسي ژبې لیک، لوست او تدریس دیپلوم دئ.  د ښاغلي معصوم هوتک څېړنې د روسي ژبې د توریو د وینګ په اړه سمې نه دي، په فرانسوي نه پوهېږم او په فارسي یې زما څه کار، دلته لاندې د ښاغلي معصوم هوتک د لیکنې یوې برخې ته ستاسو پام اړوم.

د(ش) توری دپښتوالفبې نونسم توری دئ . په فارسي،اردو،عربي اونوروژبوکي داآوازسته . انګرېزي سمبول (sh)، روسي سمبول یې دالکې لرونکي ډبلیوپه شان (щ) دئ . داتوری په الفبې کي (سچه ـ دسین اوچې په سکون) ویل کیږي خوکله چي په لغت کي راسي د شین تلفظ لري . په روسي کي (сч) هم دشین آوازلري لکه دشستي (счастье) په کلمه کي چي دبخت معنالري. په فرانسوي کي دشین سمبول (ch)دئ .دکیوبیک فرانسویان (ch) په ځینولغاتوکي دپښتو(ښ ـ له کندهاري ګړدودسره سم) تلفظ کوي مثالونه یې (یکشنبه =dimanche)، (غزل=chant) دي چي په ترتیب سره دیمانښ اوښانت تلفظ کیږي) . په پښتو،فارسي ،اردو اوعربي الفبې کي دشین موقعیت ترسین وروسته ټاکل سوی دئ . پښتومثالونه یې شیدې،شمله،اورشو،..... دي . انګرېزي مثالونه یې (shoulder)، (shoe)،روسي مثال یې (لیلیه =اب شي ږیتي یه общежитие) دئ .

په دې لیکټوټه کې د (ش) توری د نورو ژبو په رڼا کې څېړل شوی، خو په زړه پورې دا ده، چې ګورې یې (ش) مګر سپېړي یې په (سچه-سین)، خو روسي ژبه د (س) لپاره د (c) توری لري، نو د تلفظ له ګواښونو سره مخامخ نه ده. په روسي کې د (сч) مرکب هېڅکله هم د (ش) غږ نه درلود او نه یې لري او د (счастье) سعادت یا نېکمرغي ته (سشستیې) ویل کیږي، چې د (سش) مرکب د (سچ) غبرګغږ ته نېږدې غږ ورکوي او د لیلیې یا په روسي اوبشېژیتیې (общежитие) په ویلو کې د (ش) لپاره (щ) او د ژ لپاره (ж) کارول کیږي، نه دا چې روسي هم په خپله ژبه کې ورکه کړو، د فارسي متل دئ، چې وایي (به یک نقطه فیل قیل میشود!). په روسي کې د پښتو د (ږ) معادل د (г) توری دئ، چې د پخواني شوروي په ځینو لویدېزو سیمو کې کټمټ د منځنۍ پښتو د (ږ) په ډول تلفظ کیږي، که مو موکه ومونده، نو په (YouTube) کې د میخایل ګوربچوف او یا هم کوم کلیوال اوکرایني یا بېلاروس خبرو ته ځیر شئ، حتی که روسي مو زده هم نه وي، نو د ویلو یا په روسي ګووریت (ږووریت) د فعل (говорить) په وینګ کې هرومرو د (ږ) توري ته نږدې غږ به مو تر غوږ شي، نو زه دلته تاسو د ګوربچف د لنډو خبرو ویډیویي انځور کتلو ته رابولم، چې د (г) توری یې به بېلابېلو روسي وییونو کې د (ګ) او( ږ) او کله کله  (خ) ته نږدې ویلي دي، نو که ګوربچف خپله ژبه سمه نه وایي بیا نو  هماغه د کلي او مسافر خبره ده، چې ویل شوي «مسافر د کلي خلکو ته ویل چې لیونیان یئ او کلیوالو مسافر ته، نو اوس تاسو قضاوت وکړئ، چې څوک رښتیا وایي!.

http://www.youtube.com/watch?v=6UdX2_QJxFQ&feature=related

بل ځای ښاغلی معصوم هوتک لیکي: په انګرېزي ژبه کي د (ښ) آوازنسته. په روسي اواوکرایني ژبوکي داآوازله کندهاري ګړدودسره سم تلفظ کیږي اوګرافیم یې (ш) دئ. ځیني پښتانه دروسي (ښ)هم دشین په شکل تلفظ کوي چي صحیح ندئ. که داسي وای چي په روسي ژبه کي داږغ د(ش) په شان تلفظ کېدلای نوبیادعلیحده سمبول ټاکلوته ضرورت نه وواوهماغه د(щ) به یې ورته کارولای. په روسي ژبه کي هغه مثالونه چي (ښ) پکښې له کندهاري ګړدودسره سم تلفظ کیږي،دادي : ( ښه = хорошо)،(پنسل= карандаш) چي په ترتیب سره (خرښوـ کرنداښ) تلفظ کیږي.

د روسي ژبې د (щ) او (ш) د توریو وینګ د پښتو، فارسي او عربي (ش) ته ورته دئ، خو خپلې ځانګړتیاوې لري او د ژبې او تالو تر منځ د سا د خوځښت په ترخ  کې جوړېږي، خو کټمټ نه د فارسي یا عربي له  (ش) سره سرلګوي او نه هم له کندهاري (ښ) سره کټمټ ورتوالی لري، نو هره ژبه خپل ځانګړی د وینګ او د تلفظ د لوړوالي ځانګړتیاوې لري. په روسي کې د (ш) لپاره د ژبې د شا مخکنۍ برخه پورتنیو غاښونو او تالو ته نږدې کیږي او د سا د خوځښت په مرسته د (ш) غږ جوړېږي او د (щ) لپاره د ژبې د څوکې، تالو او پورتنیو غاښونو تر منځ د سا د خوځښت په مرسته رامنځ ته کیږي.



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً  به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

ما ډېره هڅه وکړه، چې د کرانداش (карандаш) او خرّشو (хорошо) د وينګ ويډيويي انځور ومونډم، خو له خواشيني سره بايد ياده کړم، چې خپله موخه مي تر لاسه نه کړه، خو بيا مي هم د (ش) د تلفظ يوه لنډه ويډيو، چې د روسيي د لومړي وزير ولاديمير پوتين خبري پکي راغلي تاسو ته د قضاوت لپاره وړاندي کړه، په دي هيله چې د غږونو په توپير لږ پوه شئ، څکه چي پردی ژبه د غوږونو لپاره تل نا آشنا وي.

http://www.youtube.com/watch?v=BoqbdJdQWVo&feature=related

اوس به راشم بيرته خپلي پښتو ته. ما دغه څو کرښي له خپلي يوې زړې ليکني راکاپي کړې دي، چې تکراړول يې اړين ګڼم. پښتو اريايي ژبه ده، چې په ختيزه ارياني (باختري) څانګي پورې اړه لري. پښتو ډېره خوږه او سمسوره ده. پښتو ډېر ګړدودونه لري، چې ټول په دريو څانګو (ختيزه، منځنی او لوېديزه) په افغانستان کي راغبرګيږي. د پښتو د دغو څانګو توپير د (ږ ، ښ) غږونو په وينګ او په ځينو وييو کي د بيلابيلو ورته غږونو لکه (ج-جبه، ز-زبه، ژ-ژبه، يا وريجي، وريزې، وريژې) کارول او په غونډله کي د (شول) کړ د (ش) پر ځای د (س) د توري کارول دي.

په ختيزو سيمو کي د (ږ) غږ د (ګ) او د (ښ) غږ د (خ) په ډول ويل کيږي، خو د (ږ) غږ لپاره د ژبي ملا نرم تالو ته ورنژدي کيږي او د (ګ) غږ ته ورته ويل کيږي او د (ښ) لپاره د ژبی وروستی برخه د تالو نرمي برخي ته ورنژدي کيږي او د (خ) غږ ته ورته د تالو د نرمي برخي او ژبی تر منځ جوړيږي.
په لوېديزو سيمو کي (ږ) د (ژ) او (ښ) د (ش) په څېر ويل کيږي، خو د دواړو په وينګ کي ژبه زيږ تالو ته له ورجګېدو سره بيرته راغبرګيږي او ژبه په (ښ) کي لږ مخکي او په (ږ) لږ شا ته غبرګيږي او په مبنلو غبرګژبيزو اوازانو کي شمېرل کيږي.
په منځنی څانګه کي د (ږ) او د (ښ) غږونه نرم ويل کيږي، خو د(ږ) او د (ښ) لپاره ژبه ډېره نه خوځيږي او غږ د ژبي او تالو په منځ کي جوړيږي. د دواړو (ږ، ښ) توريو غږونه د ژبي او تالو تر منځ د هوا د فشار په پياوړتيا له يو بل سره توپير مومي.
بايد ياده شي چې په ورستيو کي د افغاني خپرونو په تګلاره کي داسي هڅي تر سترګو کيږي چې د پښتو ژبي ليکدود د سيميزو ګړدودونو د ليکبڼي له ګواښ سره مخامخ کړي. د پښتو په وده کي په وروستيو پنځوسو کلونو کي هر اړخيز هڅي شوي دي، چې پښتو ليکدود ته معياري بڼه ورکړي، خو ځيني ليکوال پخپلو ليکنو کي د خپلي سيمي ګړدود کاروي، چې د ځينو بېلګي يې دلته يادوم:
په يوه ليکنه کي يو څوک ليکي چي موږ مني ته سېب، وني ته درخته، سيوري ته سايه او داسي نور او وايو او د چا پروا نه لرم. بل بيا کله کله له فارسي نيغ په نيغه وراشي راژباړي چې په پښتو کي کېدای شي بله مانا ورکړي، لکه : د فارسی خواهش ميکنم (خايي شکوم) او داسي نور.
په بله ليکنه کي بيا يو بل ليکي چې د پلانی سيمي ژبه اسانه او خوږه ده او کرزي ته وړانديز کوي، چې لوېديز ګړدود دي د پښتو معياري ليکبڼه وګرځي. په جرمني کي مي د بلي سيمي يوه خپرونه تر سترګو شوه، چې جنوبي سيميز ګړدود يې د ليکبڼي بنسټ وو، خو بايد په ياد ولرو، چې په جنوبي کي کتلو ته کسه او کور ته کېر وايي، چې په پاړسيانوکي يوه وراشه تل يادېږي «کېر په کېر به ګرځو هر کېر مو چي خوښ شو هلته به کېنو!»، نو نن سبا د سعودي او پاکستان هم د يو ديپلومات په نامه ناندره ده، چې نوم يې به عربي کي سمه مانا نه ورکوي، څوک به ورته مخور، خېتور، کونور او يا هم ..نور وايي.
د هېواد نامتو ليکوال، شاعران او ژبپوهان هم په سياسي، سيميزو او نورو تعصبونو په څپو تاوده دي. يو نامتو افغان په هلمند کي د خپرېدونکي (پګړی) په اړه يې د (بګړی) سپارښت کړی وو، چې د دغه خپروني يواځي دويمه يا دريمه ګڼه (پګړی) نومي نوري يې زموږ د ښاغلي شاعرله سپارښت سره سم په (بګړی ) اوښتی دی او په دي کار وياړي هم، د دي لپاره د پګړی مهالنی ولولئ.

د ځينو بيا د (سول) او (شول) مرستيالکړ کارول دي، چې په بېلابېلو سيمو کي په بېلابېلو ډولونو سره ويل او ليکل کيږي چې د سول، سوځېدل، سوځل يا سېځل کړونو د پوهېدني بهير يې ستونزمن کړی. د يو ژبپوه په مرکه کي مي ولوستل چې د سول پر ځای دې سوځل وکارول شي، خو کۀ سم پام وشي، نو سول د يو شي د سوځېدو بهير ته ښودنه کوي او سوځل يوه کوانده (فعاله) پيښه ده، چې يو کس يو شی سوځي او وسول د پېښي تېر مهال څرګندوي، څکه نو د معياري ليکدود کارول او په دې برخه کي هڅې ډېرې اړيني بريښي.

ملي ټرمينالوجي هم د ناپوهی او يا هم تعصبونو په اور پخيږي، د بېلګي په توګه د وردګ ولايت نوم په ځينو بريښنا پاڼو کي وردګ-ميدان ليکل کيږي. بايد ياده شي چې ولايت وردګ دی او منځی (مرکز) يې ميدان دی، خو زۀ نۀ پوهېږم چې د دغه پورته هلو ځلو موخه څۀ ده. پښتو يوه ده او بايد هم يو ټولمنلی ليکدود ولري. کۀ څوک وايي چې


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

د پلانی سیمي ګړدود یا د بیستانکی سیمي لیکدود دې معیاري وټاکل شي ، زما په ګومان چې د پښتو د ورکېدو ګاډی به نور هم پیاوړی شي او په زغرده به د تریتامي په کنده کي نسکور شي٠
په یي ګانو ګي هم ټول ستونزو پسي ګرځي، لکه په نس کي چي هډوکي لټوي. په پښتو کي ۵ یي ګاني دي، چي کارول یې د غونډلي پوهیدنه اسانوي او د ژبې ښایست ته ښودنه کوي، نو د یې د سمي کارولو توګه په اړه باید یوه هر اړخیزه څېړنه تر سره شي، خو دلته یې زه ټولیز اړخونه یادوم، چي ستاسو پام ورته رااړوم.
پیژندلي یي (ی):
د نوم د یادلو لپاره کارول کیږي، لکه ( زمری، زرګی، زلمی، بریالی او داسي نور)،
همدا ډول پیژندلي یي (ی) د نومځري لپاره هم کارول کېږي، لکه (دی، دوی، هغوی).

څرګنده یي (ي):
په غونډله کي د شي او کړ ډېرګړي بڼي ته ښوونه کوي او د کړ ډېرګړې بڼه هم په څرګنده یي (ي) لیکل کېږي، لکه:
هغه سری کور ته ځي. (سری یوګړی)
هغه سري کور ته ځي. (سري ډېرګړی)
ځانګړتیا: په ښځینه کي د (ښځه/ ه په يي اوړي)، چي په لاندې ډول لیکل کېږي (هغه ښځه کور ته ځي) یا (هغه ښځي کور ته ځي)، چي د پښتو ځانګړتیا ته ښوونه کوي.
اوږده یي (ي): دغه یي د پوښتني په ترڅ کي کارول کېږي، په غونډله کي د ستايننوم بڼه خپله کوي او د ځرمي غونډلي د اړیکويي یي هم اوږده یي ده.
هغه ښځه چېري تللي وه؟
هغه ښځي چېري تللي وې؟
هغه ښځي له دفتره راغلي دي.
هغه ښځي له دفتره راغلي وې. (دلته یې تېر مهال ته نغوته کوي).
ما له هغه سره ژمنه وکړه چي ښوونځي ته به ګډ ځو.
لکۍ واله یي (ۍ) د ښځینه نومځري لپاره کارول کېږي او په بېلابېلو غونډلو کي نه اوړي، لکه: سیلۍ، مشوانۍ، شینکۍ، ککۍ او داسي نور.
په پوښتغونډله کي، ځیني ځانګړتیاوې شته، چي ستاسو پام ورته رااړوم.
سیلۍ ته ووایه چي پشۍ (پشیانۍ) راولي! غوښتنه
ځانګړنه:
لیمي ته ووایه چي غوا (غواوې) راولي!
څانګي ته ووایه چي غويی (غویي) راوله! امریه حالت
میني ته ووایه چي مېږه (مېږې) راوله!
درنه یي (ئ): دغه یې په ورستیو لسو کلنو کي ډېره کارول کېږي، چي په وینګ کي لکیوالي یی (ی) ته نږدې غږ لري او په غونډله کي له وینګ سره سم د پیژندلي یی سره د توپیر لپاره کارول کېږي، بېلګه: د (دی) او (دئ) توپیر ته ځیر شئ.
هغه ښوونځي ته تللی دئ.
دی له کابله راغلی دئ.
زمری له کندهاره راغلی دئ.
بل ځای ښاغلی ممعصوم هوتک د خپل استدلال لپاره لاندې کرښي توري کړې دي، چي په هغه کي یي د افغانستان د وګړو د شمېر په څېر یوه ځانګړې احصائیه هم ورکړې، چي بنسټ یې کومه پوهنیزه څېړنه ده، دوی پخپله هم نه پوهېږي، چي پخپله د بحث وړ خبره ده.

دافغانستان دعلومو اکاډمي او پوهنتون داستادانوپه ګډ زیاربرابرسوی وو. داپروسیجر زماسره اوس نسته خودومره مې په یاددي یامي کوم ځای لوستلي دي چي دکلماتو دمعیاري شکلونوپه لیکلوکي څلوراصله ټاکل سوي ول : لرغونوالی ــ ډېروالی ــ لنډوالی ـــ اسان والی .
له لرغونوالي څخه یې ارکائیک قدامت اوپه کلاسیک ادب کي دهغو استعمال مرادوو. له ډېروالي څخه یې مقصدددټاکلي کلمي دویونکو د شمېرزیاتوالی وو. له لنډوالي څخه یې په کلمه کي دتوروڅونه والی (کمیت)مطلب وو. له آسان والي څخه هدف داووچي پښتانه باید نوموړي کلمه په اسانۍ سره تلفظ کړای سي . دې هراصل ته پنځه ویشت


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

، پنځه ويشت نومرې ورکړه سوي وي . که به پريوه کلمه باندي بشپړاتفاق موجودوو،معنی يې داوه چي دې کلمې سل نومرې وړې دي .راسئ چي دهمدې پرنسيب له مخي د(سو) او(شو) له پاره يوجدول وليکو.

| | سو | شو |
|---|---|---|
| لرغونوالی | ۲۵ | ۰ |
| ډېروالی | ۰ | ۲۵ |
| لنډوالی | ۲۵ | ۲۵ |
| آسانوالی | ۲۵ | ۲۵ |

---

ما په ټول افغان برېښنا پاڼي کي ځيني تاوده بحثونه د پښتو په اړه وکتل، چي ځيني يې ډېر په زړه پوري هم دي، نو دلته د آغلي غوټی اوربل د ليکني يوه برخه رااخلم، چي د ګلبدين حکمتيار په ليکنه يې خپل نظر څرګند کړی دئ:
بله خبره د تاريخي اړونو ، پرمختګ په مټ د ځينو وييونو نه صافيدل، اسانيدل او مدني بڼه غوره کول دي، چي د ژبې فصاحت او بلاغت ، ښېي او بهير پرې پياوړی کيږي او د تاريخي جبر په توګه شاه تګ نه مني : په دې کي شک نشته، چي (سته) د دري له است څخه راغلی او دري ته به نېږدې وي، نو د تاريخي ريښې او لرغونواله په پلټنه کي به يو رول ولري، نه په دې کي چي له وروستي متکاملتر او په تاريخي لحاظ صيقل شوي او پرمخ تللي شکل (شته) څخه دې غوره هم وبلل شي!
ښايي ۵۰۰ يا ۱۰۰۰ دوه زره کاله پخوا به د ننګرهار پښتنو هم سته ، وسو او داسي نور ي قديمي لهجې لرلې لکه تر اوسه يې چي سهيل لويديزې پښتني سيمي لا لري او ۱۰۰۰ يا ۲۰۰۰ کاله وروسته به
هغوی هم بيا د اوسني ننګرهار په شان شته او وشو وايي . که دري ته نېږديوالی د سموالي معيار شي، نو بيا خو وشو هم د دري شد ته تر سو نېږدې او شونی او شونتيا ته به څنګه سونی او سونتيا وايو او په کوم اساس دې د پخوانی کندهارا اوسني ننګرهاري پښتانه بيرته د کندهارا وخت يا اوسنی سهيل لويدځي دورې ته په ښټ ستانه شي(؟)، آيا دلته خو به د حکمتيار صيب کوم سياسي خوځتاری (انګيزی) نه وي را په مخه کړی؟ که دا پوښتني په پام کي ونيسو چي له کوم وخت راهيسې د ژبې په علمي ادبي او ګرامري سموالی او ناسموالی په اړه د سياست، اقليت او اکثريت له مخی فيصلې کيږي؟ آو ايا پښتنويوه نړيواله ژبه نه ده او د ډيور ن په کرښه ختميږي ، که تر آټکه هم نه ور اوړي چي ګواکي دسته اوسو کارول د لړی پښتونخوا په شمول هم اکثريت لري؟
درنو لوستونکو! د پښتو د نيولوجيزم به برخه کي بايد وويل شي، چي ځيني وييونه د اړتيا په ترڅ کي پخپله رامنځ ته کيږي او د ځينو وييو د جوړښت لپاره د يو علمي بورډ (کميسيون) ته اړتيا ده. تاسو ته به مالومه وي چي د کمپيوتر له رامنځ ته کېدو سره د برېښنا جال (اينترنيت)، برېښنا پاڼه (ويبساېډ)، برېښنا ليک (ايميل)، برېښنا پته (ايميل آدرس) او برېښنانښه (@) نوي ويي رامنځ ته شول او د تلويزيون لپاره ښاغلي پوهاند مجاور احمد زيار د (لروينون) نوم کارولی، چي خورا پر ځای نوم دئ او کارول يې په ليکنو کي پښتو ته ځانګړی ښايست ورکوي.
له هغو دوستانو، چي د پښتو په برخه کي د پښتنو د وېشلو ګوابښونه يادوي او يا وايي، چي په ځينو سيمو کي د (سو) او (سول) په بڼه ليکني ځوک نه لولي، مګر دا نه وايي، چي ښاغلی صالح محمد صالح چي د هلمند او يا کندهار دئ، خو ښوونځی يې په کابل کي پای تر رسولی او د هغه ليکني او کتابونه د پښتو ژبې د ادب، پوهني او ليکدود يوه ستره پانګه ده، خو يو شمېر سيمييز ليکوال د هغه ليکنو ته د ترديد په سترګه ګوري او د موژ او تېلتک، برستن او يا هم نورو وارشو په لومه کي ښکېلوي، داسي نورې ډېرې خبرې دي، چي د سيمييزو ګردودونو په لومه کي نښتي، نو غوارم په دې **برخه کي د مرحوم ښاغلی رسول امين توکه، چي څه موده مخکي ښاغلي سعدالدين شپون هم ليکلي وه بيا وليکم:**
وايي چي يوه ورځ د يو چا کور ته نا بللی مېلمه ورغلی وو، نو په مېلمستون کي ناست وو، چي ګوري د کور کورودانه د بغری چومبی (د آونګ لاستی) غوړوي او په غوړو يې غوټ ومندي او راويې باسي، په دې وخت کي د کور خاوند ځي، چي د لمانځه لپاره اودس تازه کړي، نو مېلمه د کور له مېرمني وپوښتي، چي خوري دا د آونګ لاستی ولي په غوړو ومندې او راوباسې. مېرمني ورغبرګه کړه، چي کله زموږ کور ته نا بللی مېلمه راشي، نو زما د خاوند عادت دئ، چي د آونګ لاستی يې په .... ورمندي، نو زما پر تا زړه بد شو، چي عذاب دې کم شي، نو ځکه يې درته غوړم. کله چي نا بللي مېلمه دغه خبره واورېده، نو سمدلاسه يې توپ کړ او له کوره وتښ. کله چي د کورخاوند بيرته کوټې ته راستون شو، نو له خپلي کوروداني يې وپوښتل، چي مېلمه څه شو، نو مېرمني ورته وويل، چي هغه مېلمه خو را نه آونګ وغوښت او ما ورنکړ، نو همداسي خفه له کوره ولاړ. د مېرمني مېړه ورغبرګه کړه، چي دا خو دې ښه کار نه دئ کړی، نو راکړه دا آونګ، چي زه يې هغه ته ببخي ورډالی کړم او له آونګ سره له کوره


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

ووت. کله يې چې مېلمه ولید، نو ورناري يې کړې، چې يو آونګ څه شی، دوه به درکړم. مېلمانه ګومان وکړ، چې د آونګ لاستی يې پسې رااخیستی، نو دوې يې خپلې وې او دوې يې نورې پردی کړې. نو درنو هېوادوالو، د سیمییز ګړدود د لومې چومبې هم ټولو ته مه غوړوئ.
د ښاغلي معصوم هوتک دغه څو کرښې ماته لیکل شوي، «چې که یوڅوک د خپل نظرپرخلاف هروړاندیزته "سیمه ییزه لهجه" یا"دکلي لهجه" ووايي اوپخپله بیاد"جېب" له پاره "جوب" کلمه استعمال کړي اوهغه بیاورته بین المللي پښتوښکاره سي، نوداشخص که څان ته دلمرپه شان القاب هم وټاکي بیابه هم تربل هرچاپه تاریکي کي ډېرډوب وي.
ښاغلی معصوم هوتک صیبه! لکه يو منلي لیکوال او ادیب ته خپل درنښت وړاندې کوم او زما نېکې هیلې ومنئ. ما ستاسو کتاب پخپله لیکنه کې یاد کړی او په لیکنه کې مې سیمییز ګړدود هم یاد کړی او کلی هم، خو تاسو زما د لمر لقب (کېدای شي زما کورنی نوم وي یا زما نوم وي)، په هر ډول چې ده، زما نوم نه په کوم تېر او نه هم په کوم کلي پورې تړاو لري، کېدای شي د لمر پر ځای شمس ولیکم، خو بیا به هم ستاسو د اندېښنو درمل نه شي. د ژبې په برخه باید ولیکم، چې د ادبي ژبې او معیاري لیکدود توپیر باید وشي. په ادبیاتو کې د سیمې وراشې، متلونه او داسې نور کارول کېږي، که ټولنې ومنل، نو دغه وراشي یا متلونه ملي بڼه خپلوی، په اشعارو کې بیا رندانه شعرونه، چې د حیا او پردې له پولې وتلي هم وې لیکل کېږي، مګر معیاري لیکدود د پوهنیزې ژبې لپاره یوه کړنلاره ده، چې د پښتو ځانګې پرته نور ځانګپوهان هم د هغه ژبنې جوړښت، پښوېي او نیولوجیزم پر بنسټ د پښتو لمنه پرې درنه کړي، نه دا چې یوازې د ادبي پانګې، بلکې د ساینس، ټولنپوهنې، روغتیا پالنې لپاره وکارول شي او داسې لیکدود وي چې د عام پوهنې او ځانګپوهنې لپاره ګټور وي.
پایله
درنو هېوادوالو! نن سبا نړۍ د تخنیک او تکنالوژۍ په درشل کې ده او پوهنه په ډېره چټکتیا سره پر مخ روانه ده او په ننني حالاتو کې د پرمختګ له ګاډې وروسته پاتې کېدل، کېدای شي افغان ولس له نورو ډېرو ستونزو څه، چې حتی د ورکېدو له ګواښ سره مخامخ کړي. اوسمهال افغانستان د سیمیزو جیوپولیټیک غوښتنو او نړیوال اقتصادي پروګرامونو په لومه کې نښتی، چې هر ورځ په ډېره مېړانه قرباني ورکوي او پخپلو وینو کې لمبېږي، نو افغان پوهانو ته په کار ده، چې د افغانستان د ستونزو چارې وسنجوي او د افغانستان د ملي ارزښتونو (پښتو، اسلام او د ځمکې بشپړتیا) د پایښت او تلپاتې کېدو لپاره هلې ځلې وکړي. د پښتو علمي کېدل او د کره لیکدود رامنځ ته کول د پښتني ځانګپوهانو ملی مسؤلیت دئ.
ستاسو د بري په تمه


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de